# الطُّهُورُ شَطْرُ الْإِيمَانِ، وَالْحَمْدُ لِلهِ تَمْلَأُ الْمِيزَانَ، وَسُبْحَانَ اللهِ؟ وَالْحَمْدُ لِلهِ تَمْلَآنِ -أَوْ تَمْلَأُ- مَا بَيْنَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ

له أبو مالك الأشعري - رضي الله عنه - څخه روايت دی وايې چې : رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «الطُّهُورُ شَطْرُ الْإِيمَانِ، وَالْحَمْدُ لِلهِ تَمْلَأُ الْمِيزَانَ، وَسُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلهِ تَمْلَآنِ -أَوْ تَمْلَأُ- مَا بَيْنَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ، وَالصَّلَاةُ نُورٌ، وَالصَّدَقَةُ بُرْهَانٌ، وَالصَّبْرُ ضِيَاءٌ، وَالْقُرْآنُ حُجَّةٌ لَكَ أَوْ عَلَيْكَ، كُلُّ النَّاسِ يَغْدُو، فَبَايِعٌ نَفْسَهُ فَمُعْتِقُهَا أَوْ مُوبِقُهَا». «پاکوالی نیم ایمان دی، او (الحمد لله) تله درنوي او ( سبحان الله او الحمد لله) دواړه د آسمان او ځمکې تر منځه - واټن - ډکوي لمونځ رڼا ده ، او صدقه يې د خاوند په ايمان پرېکنده دليل دی، صبر روښنايي ده، او قرآن خو يا ستا لپاره او يا پر تا باندې حجت دی، ټول خلک - د روزګ په لټه کې - سبا کوي، ځينې ځان پلوري؛ تر څو يې له اور څخه آزاد کړي، او ځينې نور يې پلوري تر څو يې هلاک کړي».

[صحيح] [مسلم روايت کړی دی]

پيغمبر - صلى الله عليه وسلم - خبر ورکوي چې ظاهري پاکوالی په اودس او غسل سره کيږي او دا چې - پاکوالی - په لمانځه کې شرط دی. او دا چې ووايم " الحمد لله تله ډکوي" نو دا په الله تعالى باندې ثنا ويل دي، او د کمال په صفتونو سره د هغه - ذات - يادول د قيامت په ورځ تلل کيږي او تله ډکوي. او "سبحان الله او الحمد لله" ويل - له هرې نيمګړتيا څخه د الله تعالى د ذات پاکوالی او په بشپړ کمال سره يې يادول دي څرنګه چې د هغه د لوی شان سره ښايي؛ سره د هغه د محبت او تعظيم چې دا - د آسمان او ځمکې تر منځ - واټن - ډکوي. او دا چې لمونځ د بنده لپاره رڼا ده؛ د هغه په زړه کې، د هغه په مخ کې، د هغه په قبر کې او د هغه د بيا راپورته کېدلو پر مهال. او دا چې صدقه د مؤمن د ايمان د ريښتينولۍ او د منافق سره په توپير درلودلو ثبوت دی، چې - منافق - يې له ورکولو ډډه کوي؛ ځکه چې په ژمنو يې باور نه لری. او دا چې "صبر ( له اضطراب او ناخوښۍ څخه ځان ساتل) رڼا ده" داسې رڼا چې د لمر د رڼا په څير تودوخه او سوځېدنه ورسره مل وي، ځکه - صبر - سخت دی؛ له ځان سره مبارزې او له هغه څه څخه د نفس زنداني کولو ته اړتيا لري چې نفس يې غواړي؛ لدې امله صبر کوونکی تر هغه پورې په سمه لار په روښنايي کې روان دی تر څو چې صبر کوي؛ صبر - درې ډوله دی - د الله تعالى په اطاعت باندې صبر، د هغه له نافرمانۍ څخه صبر، او د دنيا په ډول ډول مصيبتونو او آفتونو صبر. او دا چې قرآن ستا لپاره حجت دی، په تلاوت کولو او پرې عمل کولو سره، او يا دا چې پر تا باندې حجت دی، د تلاوت په نه کولو او پرې عمل پرېښودلو سره. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکړ چې ټول خلک سهار مهال له خوبه پاڅيږي او د بېلابيلو کارونو لپاره له کورونو څخه وځي او په ځمکه کې خپريږي. نو ځينې لدوی څخه د الله تعالى په اطاعت ثابت قدمه پاتې شي او ځان له اور څخه آزاد کړي، او ځينې نور ترې بې لارې شي او په ګناهونو کې اخته شي نو اور ته په داخلېدلو سره ځان هلاک کړي.

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY

لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee